# مطبوعاتي اعلامیه: رواداري د کابل پر یو درملیز مرکز د پاکستان مرګونی هوایي برید غندي

18/03/2026

د افغانستان پر ملکي اهدافو د پاکستان د نظامي ځواکونو د هوایې بریدونو په دوام، د ۲۰۲۶ کال د مارچ میاشتي په ۱٦ مه نېټه په کابل ښار کي د « امید کمپ» په نوم د معتادینو د درملنې پر یو مرکز برید وکړ، چي د لومړنیو معلوماتو له مخې، سلګونه ملکي وګړي پکښې وژل شوي او ټپیان شوي دي. ترلاسه شوي شواهد ښیې چي دغه برید په « امید کمپ» کې د پراخې اولګېدنې سبب شوي او ملکي وګړو ته یې درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

په داسي حال کي، چي د قربانیانو دقیق شمېر لا تر اوسه نه دي روښانه او یو شمېر کورنۍ لا هم په روغتونونو او روغتیایې مرکزونو کي د خپلو عزیزانو په لټه کې دي. رواداري یاده پېښه د نژدې څېړې او خپلې بشپړې موندنې به په مناسب وخت کې له لازیاتو جزیاتو سره وروسته خپرې کړي.

دا ډول کړني د نړیوالو بشرپالو حقونو د بنسټیزو اصولو څخه ښکاره سرغړونه بلل کېږي، له دې ډلې د تفکیک اصل، د نظامي ضرورت اصل او د احتیاط اصل چي د جګړییز جرم په توګه پیژندل کېدای شي. د وسله والو شخړو اړوند قوانینو له مخې، ښکېلې خواوې مکلفې دي چي د نظامي او ملکي اهدافو ترمنځ توپیر وکړي او د زیاتو زیانونو د مخنیوي لپاره، په ځانګړي ډول د ملکي وګړو د زیان د کمولو په موخه، ټول ممکن تدابیر ونیسي. په دې لړ کي، درملیز او روغتیایي تاسیسات د جنیوا کنوانسیونونو له مخې ځانګړي ساتنه لري، او پر دې ډول ځایونو هر ډول قصدي برید کولای شي د عاملینو لپاره جدي حقوقي پایلې ولري.

رواداري، د دې مرګوني برید د کلکي غندني او په افغانستان کي پر ملکې اهدافو د بریدونو د دوام په اړه د ژورې اندیښنې ځرګندولو ترځنګ، ټینګار کوي چې د ښکېلو لورو له خوا باید د نړیوالو بشردوستانه حقونو بنسټیز اصول بې له قید او شرطه رعایت شي. د دې پېښې عاملین باید د نړیوالو قوانینو په چوکاټ کې حساب ورکوونکي وګرځول شي. همدارنګه، موږ د وسله والو نښتو د سمدستي پای ته رسېدو، د اوربند د اعلان او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړې د سوله ییز حل غوښتنه کوو.

سربېره پر دې، رواداري له اړوندو نړیوالو بنسټونو، په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړي چې په افغانستان کې د ملکي وګړو د ژوند او کرامت د ساتنې او د دې ډول بشري فاجعه ناکو پېښو د تکرار د مخنیوي لپاره اغېزمن ګامونه پورته او عملي کړي. همدارنګه، له نړیوالې جزایي محکمې څخه غوښتنه کیږي چې د خپل سرزمیني صلاحیت په چوکاټ کې په افغانستان کې ترسره شویو جرمونو په اړه دا پېښه هر اړخیزه وڅېړي او د عاملینو د حساب ورکولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

پای